# د افغانستان اسلامي امارت
# د پلټنې عالي اداره

**ښاريانو ته د پلټنې راپور**

---

## د افغان ټيليکام مخابراتي شرکت د بلنگ معلوماتی سیستم د پلټنی راپور

**آیا تاسو پوهیږئ!**

په افغانستان کې د پلټنې د عالي ادارې په نوم یوه اداره شتون لري چې مشري یې د عمومي رییس لخوا کیږي او د قانون له مخې دغه اداره د ټولو دولتي ادارو د پلټنې واک لري.

## د معلوماتي ټکنالوژۍ پلټنه څه ده؟ او همدارنګه د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې راپور کوم موضوعات تر پوښښ لاندې نیسي؟




### دمعلوماتي ټکنالوژۍ پلټنه دپلټنې یو ډول دی، چې په پراخه توګه لاندې موضوعات تر پوښښ لاندې نیسي!


- آیا دولتي اداري د اسنادو او اطلاعاتو د محرمیت، بشپړتیا او لاسرسي اصولو ته په پام کې نیولو سره د معاصرې معلوماتي ټکنالوژۍ سیستمونه تطبیق او پلي کوي؟
- ایا د معلوماتي ټکنالوژۍ سیستمونه د ادارې د موښو سره سم اغیزمن اومؤثر کار کوي؟
- ایا په دفترونو کې د سیستمونو فعالیتونه اوکړنې پهمعیارونو برابر دي؟ دنه پلي کیدو په صورت کې کوم عوامل د سرغړونی لامل کیږي او په ساحه کې کومې ستونزې شتون لري؟
- ایا دعامه برخو معلومات اواطلاعات چې د دولتي ادارو لخوا راټول شوي خوندي دي؟
- ایا د معلوماتي سیستمونو کنټرول اود بریښنایي حکومتدارۍ زیربناوې په اغیزمنه توګه ډیزاین (طرحه) شوي؟
- ایا دمعلوماتي ټیکنالوژۍ سیستمونه کوم چې د پلټنې لاندې دي د حکمونواو فرمانونو په پام کې نیولو سره ډیزاین او طرحه شوي؟
- ایا دمعلوماتي ټکنالوژۍ سیستمونه دسازمانونو اړتیاوو ته ځواب ویونکی دي؟

## دپلټنې عالي اداره د کومو اداراتو پلټنه کوی ؟

## د پلټنې عالي اداره د ټولو هعه بودیجوی او غیری بودیجوی سکتورونو او عامه دولتی واحدونو پلټنه کوی.

- ټول د اسلامی امارت پوری اړوند اداری برخی لکه د قضائیه قوه او لوی څارنوالی.
- ټول وزارتونه، ریاستونه ازاد ادارات ، کمیسیونه ، مرکزی او ولایتی ادارات د عایداتی اداراتو په ګډون او همدارنګه د دولت کورنی او بهرنی برخی شامل دی.
- همدارنګه سره میاشت ، شاروالیانی او دولتی تصدیانی هم شامل دی.
- هعه ادارات چی عامه بودیجه په واک لری او د هعی نه استفاده کوی.

## دمعلوماتي ټیکنالوژۍ پلټنه کې پلټونکی دلاندې مواردو پلټنه اوارزونه کوي



- د معلوماتي ټکنالوژۍ چاپیریال ته دلاسرسی ارزونه، زیربناوې، پالیسي، کاري میکانیزم، د معلوماتي تکنالوژۍ کاري ګرنلاری، د معلوماتي ټکنالوژۍ د سیستمونو کاري بهیراود معلوماتو تحلیل چې ددې سیستم په عملي کیدو سره دیوی اداري څومره موخې ترلاسه شوې دي؟.
- ایا د معلوماتي ټکنالوژۍ زیربناوې خوندي دي؟



- د سیستم په داخلي کنټرول، کاري سېسټمونو او معلوماتو ته لاسرسی، محرمیت او بشپړتیا په ترلاسه کولو کې د کارمندانو اغیزمنتوب څه دی؟.
- ایا معلوماتي سېسټمونه د هېواد د نافذه قوانینو سره سم او د اغیزمنتیا او مؤثریت اصولو په پام کې نیولو سره طرح (ډیزاین) او پلي شوي دي؟
- آیا منطقي لاسرسی (چې کارکونکی یې د خپلو دندو له مخې معلوماتي سېسټمونو ته لاسرسی لري) اغیزمن کارکوونکی دی؟
- ایا د معلوماتي ټکنالوژۍ زیربناوې خوندي دي؟
- ایا پلټنه د لاسرسی، محرمیت، د معلوماتو بشپړتیا، د محرمیت ساتنه او پیژندنه د پنځو اصولو څخه په یو یا څو تمرکز کوي.
- د سېسټم داخلي کنټرول، کاري سېسټمونه او معلوماتو ته لاسرسی، محرمیت او بشپړتیا په ترلاسه کولو کې د دوی اغیزمنتوب.
- ایا معلوماتي سېسټمونه د نافذه قوانینو سره سم او د اغیزمنتیا او مؤثریت اصولو په پام کې نیولو سره طرح (ډیزاین) شوي او پلي شوي دي؟

## د معلوماتي تکنالوژۍ د پلټنې د کار پایله د لا اقدام لپاره د لاندې مقاماتو سره شریکیږي:


| | |
|---|---|
| د پلټنې عالي مقام سره: | • د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې پایلې د پای ته رسیدو دمخه د پلټنې عالي ادارې مشرتابه سره شریک کیږي، ترڅو د دوی نظرونه او ځوابونه ترلاسه کړي. |
| ریاست الوزرا مقام سره | • د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې راپورونه په جلا توګه ریاست الوزراء ته سپارل کیږي، ترڅو د پلټنې ریاست مکلف کړي، چې په تطبیق کې یې سمون راولي او د پایلو حکمونه پلي کړي. او همدارنګه د پلټنې د حکمونو د پلي کولو(تطبیق) او بشپړولو په موخه د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې د راپور یوه کاپي هم د پلټنې عالي ادارې ته استول کیږي، پلټل شوې اداره مکلفه ده چې د پلټنې سپارښتنې پلي(تطبیق) کړي او د پلټنې عالي ادارې ته ډاډ ورکړي. |

## ولې په اداراتو کې  د معلوماتي ټکنالوژۍ او سیستمونو پلټنه مهمه ده؟

عمومي مفتش (مفتش کل) مکلف دی چې د معلوماتي ټکنالوژۍ  پلټنه ترسره کړي او وړ چارواکو ته یې راپور ورکړي

د ټکنالوجۍ پلټنې موخه د معلوماتي د زیربناوو پلټنه او ارزونه ده، د دې پورې اړوند پالیسۍ او عملیات او د معلوماتي ټکنالوجۍ کنټرول څرنګوالی، د معلوماتو بشپړتیا  او د اړونده ادارې سره په همغږۍ د دوئ عمومي هدف ټاکل دی.

د معلوماتي ټکنالوجۍ پلټنه یوه خپلواکه او هدفمنده پروسه ده چې د پلټنې عالي اداری پلټونکی د یوې ادارې د سیستمونو، شبکو او بریښنایی پروسو د خطرونو پیژندلو لپاره تشخیص کوي.



د معلوماتي ټکنالوژۍ پلټنه د داخلي سیستمونو کنټرول، د معلوماتي سیستمونو ارزونه ترڅو د مالي پلټنې موخې ترلاسه کړي، دعملکرد(دکړنو پلټنه)او د قوانینو او مقرراتو پلټنو سره مرسته و کړي. او د معلوماتي ټکنالوژۍ پلټونکی هم د مشورې لپاره د اړونده چارواکو لخوا ټاکل کیږي. تر څو زیانونه وپیژندل شي اود خطرونو(زیانونو)د کمولو لپاره د اړونده اشخاصو په همکارۍ لازمی کړنی ترسره کړي.

## د معلوماتی ټکنالوژي د پلټنی راپور:

## د بلنګ د معلوماتی تکنالوژۍ د سیستم د پلټنې راپور چک (برسی):

### کوم موضوعات او مسلی زمونږ د پلټنی لاندی پوښل شوی ؟

## د افغان تیلی کام د بلنګ د معلوماتی تکنالوژۍ د سیستم د پلټنی اصلی موخی:

۱. دعمومي معلوماتي ټکنالوژۍ سیستمونو کنټرول اواغیزمنهارزونه؛
۲. د موجوده معلوماتي ټکنالوژۍ سیستمونو د نافذو قوانینو او مقرراتو په موجودیت کې ډاډ ترلاسه کول.
۳. د پلټنې لاندې ادارو د موښو ترلاسه کولو لپاره د معلوماتي سیستمونو اغیزمنتوب او مؤثریت څخه ډاډ ترلاسه کول.
٤. د بریښنایي حکومتولۍ پلي(تطبیق) کول.
۵. دا ډاډ ترلاسه کول چې څنګه د عامه شتمنیو، کورني او بهرني معلومات او د اړونده اداري هارډویر او سافتویر ساتنه وشي.

### هغه موارد (قضیې) چې د پلټنې تر پوښښ لاندې دي:

د پلټنې عالي اداره، د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې له مخې، د بلنګ د معلوماتی تکنالوژۍ سیستم ، د مخابراتو قدرمند وزارت، د معلوماتي ټکنالوژۍ حکومتولۍ کنټرولونه (مرجع په سطحه)، د منطقي لاسرسي کنټرول، د بدلون مدیریت، معلوماتي ټکنالوژۍ فعالیتونه، د تکنالوجی معلوماتي ترونونه معلوماتو پلټنه ، د اپلیکشین کنټرولونه ارزونه او د ۱۳۹۹ څخه تر ۱۴۰۱ هجري شمسي کاله پورې د معلوماتو تحلیل هم د داخلي سیستمونو د کنټرولو او پیژندلو په موخه ترسره شوي دي.

### هعه معیارونه چې د معلوماتي ټکنالوژۍ په پلټنه کې ترې استفاده شوې په لاندې ډول ده.

۱. د افغانستان اسلامې امارت احکام او فرمانونه.
۲. دنړیوالو ادارو د پلټنې ۵۱۰۰ معیار.
۳. د کوبیټ ۲۰۱۹ معیارونه.
۴. د نیسټ (Nist) معیارونه.


### د پلټنې عالي اداره او د هغوی پلټونکي څه ويني او څه لټوي يعنې د پلټنې موښه يې څه دی؟



- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ سيسټمونو په پلي کولو کې د عصري ټکنالوژۍ، پاليسی، ميکانيزيم اود رسمي طرزالعملونو د استعمال ډاډ ترلاسه کول دي.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ په سيسټمونو کې د معلوماتو خونديتوب او ډاډمن کيدل.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ د سيسټمونو د مؤثريت او فعاليت څخه ډاډ تر لاسه کول.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ د سيسټمونو د پراختيا په جريان کې د قوانينو او معيارونو سره ترون يقيني کول.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ سيسټمونو د داخلي کنټرول اغيزمنې استفادې څخه ډاډ ترلاسه کول.
- ✓ په سيسټم کې د داخل شوي معلوماتو بشپړتيا يقيني کول.

**د معلوماتي ټکنالوژي راپور د سفارشونو او لاسته راوړنو سره مل د افغانستان اسلامی امارت عالی مقام ته وړاندی کيږی.**

**په اوسنۍ پلټنی کی مو څه لاسته راوړل؟**



## د معلوماتي ټکنالوژۍ په پلټنه کې زموږ د موندنو لنډيز:

| | |
|---|---|
| **د استراتيژيک پلان نشتون** | د پلټنې په جريان کې څرګنده شوه چې د افغان ټيلی کام د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست د معلوماتي ټکنالوجی په برخه کې استراتيژيك پلان نه نلری ترڅو فعاليتونه سم لوري ته رهبري کړي. |
| **د معلوماتو د خونديتوب د پاليسی نشتون** | د ياد شرکت د معلوماتی ټکنالوژۍ رياست د ټکنالوژۍ د معلوماتو د خونديتوب پاليسی او پروسيجرونه چې د شبکی د معلوماتو د کنترول ښوودنه کوی، نلری. |
| د معلوماتي ټکنالوجی د مشرتابه يا اجرائيوي کميټې نشتون | د معلوماتي ټکنالوژۍ د پروژو د ښه مديريت لپاره، افغان ټيلي مخابراتی شرکت د معلوماتي ټکنالوجی مشرتابه يا اجرايوي کميټه نلري. |
| د خطر د مديريت د پاليسی نشتون | د پلټنې په جريان کې دا څرګنده شوه چې د بلنګ سيسټم لپاره د خطر ارزونه او مديريت ندي ترسره شوي او همدارنګه ياد سيستم د خطر د مديريت پاليسي نلري. |
| د پيښو د مخنيوی لپاره د پلان اوکميټې نشتون | د پلټنې په جريان کی معلومه شوي چې افغان ټيلی کام شرکت د پيښو د مخنيوي لپاره کوم پلان او کميټه نه لري. |
| د معلوماتی سيسټمونو د تغيراتو د مديريت پاليسی نشتون | د پلټنې په جريان کی څرګنده شوه چی په ياد سيسټم کی ترسره شوی بدلونونه د بدلون د مديريت پاليسی نلری. |
| د پاچ د مديريت پاليسی نشتون | د افغان ټيلی کام مخابراتي شرکت د بلنګ سيسټم د پلټنې په ترڅ کې معلومه شوه چې ياد شرکت د پاچ د مديريت لپاره پاليسي يا مناسبه حلاره نلري. |
| د بک اپ لپاره د پاليسی او ګرنلاری نشتون | د افغان ټيلی کام مخابراتي شرکت د بلنګ سيسټم د پلټنې په ترڅ کې معلومه شوه چې ياد شرکت د بک اپ لپاره پاليسی او کړنلاره نلری. |
| **د کار د دوام پلان (BCP) او د ناورين د بيا رغونی او جبران پلان (DRP) نشتون** | د افغان ټيلی کام مخابراتي شرکت د بلنګ سيسټم د پلټنې په ترڅ کې معلومه شوه چې ياد شرکت د کار د دوام پلان (BCP) او د ناورين د بيا رغونی او جبران پلان (DRP) نلری. |
| د پټنوم د پاليسی نشتون | د افغان ټيلی کام مخابراتي شرکت د بلنګ سيسټم د پلټنې په ترڅ کې معلومه شوه چې ياد شرکت د پټنوم يا پاسورډ پاليسی نلری. |
| د سلام شبکې سيم کارتونو د ګټو لړې کول | د افغان ټيلی کام مخابراتي شرکت د ياد شرکت د مقرراتو څخه په سرغړونې سره د سلام شبکې له سيم کارت څخه ۵۰ افغانی ګټه لړې کړې دی. |
| د محاسبی د پاليسی نشتون | د پلټنې په ترڅ کې معلومه شوه چی افغان ټيلی کام شرکت سربيره پردی چی يو د اماراتي شرکت دی د محاسبې پاليسي ترتيب ته هيڅ پام نه دی کړی او نه هم د محاسبی پاليسي لري. |
| د معلوماتي ټکنالوژۍ د هراړخيز سيستم نشتون | د پلټنې په جريان کی څرګنده شوه چې ياد شرکت د مالي چارو د اداره کولو لپاره يو واحد او هر اړخيز سيستم نه لري. |

| | |
|---|---|
| د تخفیف نه محاسبه کول | د بلنگ سیستم د پلټنې په جریان کې معلومه شوه چې یاد سیستم په اتوماتیک ډول د تخفیف محاسبه نه ده ترسره کړی. او د تخفیف راپور یې چمتو کړی، او مالي او محاسبې څانګې هم په ژورنال کې تخفیف ندی داخل کړی. |
| د پورونو نه محاسبه کول | د پلټنې په ترځ کې معلومه شوه چې د سلام شبکې پورونه په اړوندو ژورنالونو کې ندی رسول شوی. |
| د (لمس کیدونکو وسایلو) د استهالك نه محاسبه کول | د بلنگ سیستم د پلټنې په جریان کې څرګنده شوه چې د افغان ټیلی کام شرکت د شتمنیو د استهالك د محاسبی لپاره پرمختللی الکترونیکي سیستم نلري، تر څو د هغه په کارولو سره په بیلانس شیټ کې د شتمنیو استهالك منعکس کړي. |
| د خرڅلاو د لګښتونو د ثبت کولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره د سیستم نشتون | د پلټنې په جریان کې دا معلومه شوه چې خرڅلاو د بلنگ سیستم لخوا ترسره شوی او بیا د خرڅلاوو راپور په لاسي ډول د کویك بوك Quick Book په پوستغالی کې رسول شوی چې د قوانینو او د راپور ورکولو د نړیوالو معیارونو سره مخالف دی.<br>سربیره پردې اجراییه ریاست، چې د افغان ټیلی کام د اجرایوي چارو مسولیت په غاړه لري، د بلنگ سیستم کې د خرڅلاوو ثبتول او د Quick Book پوستغالی سره د مطابقت څخه څارنه نه کوي. |
| د افغان ټیلی کام شرکت د ډیپوګانو د شتمنیو په اړه په صورت مالی کې د معلوماتو نشتون | د پلټنې په ترځ کې څرګنده شوه چې د تدارکاتو ریاست لخوا اخیستل شوي اجناس په سیستماتیک ډول تخنیکي څانګو ته په لاس ندی ورکړل شوی او سربیره پر دې د بیلانس شیټ د شتمنیو په څانګه کې هم نه دی منعکس شوی. |
| په بلانس شیټ کی د کمیشن د محاسبی نشتون | د پلټنې په جریان کې دا معلومه شوه چی د یاد سیستم کمیشن په لاسی یا اتوماتیک ډول په بلانس شیټ کی ندی رسول شوی. |
| په افغان ټیلی کام مخابراتي شرکت کې د پانګونې د کمیټې نشتون | د بلنگ سیستم او افغان ټیلي کام شرکت د پلټنې په ترځ کې معلومه شوه چې یاد شرکت د پانګونې کمیټه نه لري. |
| د ونډو د ګټې او عاید د نظارت نشتون | د افغان ټیلی کام مخابراتي شرکت د پلټنې په ترځ کې معلومه شوه چې د دغه شرکت ونډې د ۱۳۹۹ مالی کال راهیسی ندی تشخیص شوی. |
| د عوایدو او لیجر د تطبیقاتو نشتون. | د پلټنې په ترځ کې څرګنده شوه چې د افغان ټیلی کام په محترم شرکت کې د حسابونو د کنټرول سیستم شتون نلري ترڅو د لیست شویو ارقامو ترمنځ د توپیرونو د رامنځته کیدو مخه ونیسي. |
| د ژورنالونو د څارنې نشتون | په یوه اداره کې ژورنال انټری باید په سمه توګه ترسره شي ترڅو د تیروتنو مخه ونیول شي، مګر د پلټنې په ترځ کې څرګنده د غیر معیاري ژورنال انټری څارنه په سمه توګه نه کیږي. |
| د نه لمس کیدونکو شتمنیو څخه د نظارت نشتون | د بلنگ سیستم د پلټنې په ترځ کې څرګنده شوه چی یاد سیستم د (۳۸) د محاسبې معیارونو سره سم یو نه لمس کیدونکی شتمنی ده چی نه یې قیمت او نه هم د هغې استهالك مشخص شوی. |
| د اجراییه ریاست لخوا د مالي حسابونو تصویب | د پلټنې په ترځ کې معلومه شوه چې د افغان ټیلی کام مخابراتي شرکت اجرایوي رییس د یاد شرکت بیلانس شیټ تایید او تصویب کړی چې دغه عمل د یاد شرکت له اساسنامی سره په ټکر کې دی. |

| | |
|---|---|
| د بشري منابعو د لګښت او ګټې د تحلیل نشتون | د پلټنې په ترڅ کې معلومه شوه چې د افغان ټیلی کام مخابراتي شرکت د کار بشری پانګې لګښت او ګټه نه تحلیلوي. |
| د بانکی تطبیقاتو د راپور نه چمتو کول | د پلټنې په ترڅ کې څرګنده شوه چې د افغان ټیلی کام شرکت د غلطیو د سمولو لپاره د بانکي تطبیقاتو راپور نه ترتیب وی (د حسابونو ترمنځ توپیرونه چې د افغان ټیلی کام حساب څخه غلط حساب ته د پیسو د لیږلو له امله رامینځته کیږی). |
| په لیجر کی د پیشکی حساب نه ثبت کیدل. | د پلټنې په جریان کې څرګنده شوه چې د افغان تیلی کام مخابراتي شرکت په ژورنال او عمومي لیجر کې پیشکی ورکړل شوي پیسې نه رسوی. |
| **د لیجر او بانکی صورت حسابونو د تطبیقاتو نشتون** | د مالي او حسابي چارو د ښه مدیریت لپاره، څانګې هر کال باقیات تثبیت کوی او په ژورنال او عمومي لیجر کې یې ثبتوي. خو د پلټنې په ترڅ کې څرګنده شوه چې افغان ټیلی کام مخابراتي شرکت د خالصو عوایدو د معلومولو په موخه، باقیات له عمومي لیجر سره نه تطبیق کوي. |

## زمونږ پایلې :

افغان ټیلی کام مخابراتي شرکت د هیواد په کچه د فایبر، وایس مکس ... د انټرنیټی خدماتو وړاندی کونکی دی. سربیره پر دی یاد شرکت د سیم لرونکی او بی سیم ټلیفون خدمات هم وړاندی کوی. یاد شرکت د سلام مخابراتی شبکی د ۷،۳ میلیونه پیرودونکو د مدیریت لپاره د ( CV BS Zsmart) یا د بلنګ د الکترونیکی سیستم جوړ کړی.

د معلوماتي ټکنالوجی سیستم له جوړیدو وروسته پلټنی ته اړتیا لري د دې هدف لپاره، د معلوماتي سیستم جوړونکي د پلټونکی تر سرلیك لاندې یوه ډله جوړوي یا سیستم په داسې ډول تنظیموی چې معلومات د معلوماتي ټکنالوجی مفتش ته وړاندې کوي، نو په همدی اساس ګومارل شوی ټیم د (۱۳۷۸۹) شمیره استعلام په واسطه په ۱۴۰۲/۴/۲۵ نیټه د بلینګ په سیستم کې د یوزر د جوړولو غوښتنه وکړه، چې د افغان ټیلی کام مخابراتي شرکت د یوزر د جوړولو څخه د انکار برسیره داسی ویلی دی.

"هیئت محترم میتواند مقتضایات شان در ورود موضوعات مورد نظر شان با در نظرداشت امکانات در سیستم های مربوط عملاً مشاهده و پرنت معلومات مطلوبه را اخذ نمایند البته این زمینه توسط مسئولین مربوط فراهم گردیده میتواند"

همدارنګه د افغان ټیلی کام د بلنګ سیستم د پلټنی ګورمال شوی ټیم ته د سیستم داخلي کنټرولونو، د اپلیکیشن کنټرولونو او د بلنیګ سیستم د قرارداد د دوسیی بشپړ فایل د نه وړاندې کولو په صورت کی ډاډ ندی ترلاسه کړی او د پورته یادو شویو موضوعګانو په اړه تبصره نه کوي.

همداراز افغان ټیلی کام مخابراتی شرکت د شرکت د دقیق مدیریت او د لارې د نقشې د ټاکلو لپاره استراتیژیک پلان نه لري. شرکت د معلوماتو امنیت پالیسي، د خطر مدیریت پالیسي، د پیښو اداره کولو پلان او د پیښو اداره کولو کمیټه، اجرایوي کمیټه، په معلوماتی سیستمونو کې د بدلونونو په جریان کې د کنټرولونو د رامینځته کولو په موخه د بدلون مدیریت پالیسي، د پاچ مدیریت پالیسي، د بک اپ مدیریت پالیسي، د کار د دوام پلانونه، د ناڅاپي پیښو د مدیریت لپاره د ناورین بیا رغونی او د تاوان د جبران پلان، د پټنوم پالیسي، او د مالي محاسبو ترتیب او وړاندې کولو لپاره د محاسبې پالیسي نلري.

برسیره پردې، د ۱۳۹۹کال د اساس نامی له مخې، یاد شرکت مکلف دی چې د چارو د ښه مدیریت او د مالي وضعیت د څارنې لپاره د مالي معلوماتي ټکنالوژۍ جامع سیستم رامینځته او ورڅخه استفاده وکړی، اما تر اوسه د افغان ټیلی کام مخابراتی شرکت مالی سیستم چی د الکترونیکی انپټ څخه برخمت وی، نه دی جوړ شوی.

مخابراتي شرکتونه بازار ته په کتو د ډیرو پیرودونکو د جذبولو لپاره مختلف تخفیفونه په پام کې نیسي. افغان ټیلي کام مخابراتي شرکت هم تخفیف په پام کې نیولی او همدارنګه د شرکت پور، د لمس کیدونکو او غیر لمس کیدونکو توکو استهلاک، بانکي کمیشنونه د نړیوالو راپور ورکولو د معیارونو (IFRS) له مخې په ژورنال کې ندي رسول شوي.

سر بیره پر دې بانکي راپورونه باید د هرې ربعې وروسته د شرکت لومړیتوب په پام کې نیولو سره ترتیب شي، تر څو د نغدو پیسو جریان او د بانکي غلطیانی معلومی شی. خو افغان ټیلی کام شرکت د بانک د طتبیقاتو راپور نه تنظیموي.

د پانګې اچونې د چارو د ښه والي په موخه افغان ټیلی کام مخابراتي شرکت باید د پروژو موخو ته د رسیدو په اساس له پانګونې مخکې د معلوماتي ټکنالوجی د پروژو ګټې او زیانونه او کاري څواک تحلیل کړي. خو یاد شرکت د بشري څواک ګټه او تاوان نه تحلیل کوي.

برسیره پردې شرکت باید هرکال شتمنی ثبات کړې، عایدات، پیشکی او بیلانسونه د لیجر سره تطبیق کړي او په ژورنال د رسولو ځارنه وکړي. خو یاد شرکت د شتمنی مشخص کول، پیشکی او بیلانسونه له لیجر سره نه دي تطبیق کړي.

سربیره پردې، د اساس نامی په نظر کې نیولو سره مالي حسابونه باید د هغو چارواکو لخوا تصویب شي چې لګښتونه اداره کوي. خو د شرکت اجراییه رئیس د اساس نامی له مادو سره په ټکر کې مالي حسابونه تائید او تصویب کړی دی. د پورته ذکر شویو نقاطو له مخې، لاندې پایلې اخستل کیږي؛ چې یاد شرکت د سیستم د داخلي کنټرول د جدي ضعف لرونکی دی.

نو په همدی اساس لازم ده چی افغان ټیلی کام مخابراتی شرکت استراتیژی پلان، د معلوماتو د امنیت پالیسي، د خطر د ارزونې او مدیریت پالیسي، د پیښو سره د مخنیوی پلان، د بدلونونو د مدیریت پالیسي، د پاچ د مدیریت پالیسي، د بک اپ د مدیریت پالیسي، د کار د دوام او د ناورین د بیارغونی او جبران پلان، د پټنوم د مدیریت پالیسی اود محاسبو پالیسي ترتیب او منظور کړې.

سربیره پردی د ګټې او زیان تحلیل په پام کې نیولو سره د عایداتو او لګښتونو اداره کولو لپاره د معلوماتي ټکنالوجی یو جامع سیستم رامینځته کول او تنظیم، د استهالک، پورونو او بانکي کمیشنونه باید په ژورنال کی ورسول شی. د پانګونې کمیټه جوړه او د شرکت د ونډو او شتمنی تثبیت، رسیدونه، بیلانسونه او پیشکی باید د لیجر سره تطبیق او د بانکي تطبیقاتو راپور تنظیم شي.

## زمونږ سپارښتنې:

| | |
|---|---|
| ✓ د افغان ټيلی کام شـــرکت د معلوماتي ټکنالوجی استراتيژيک پلان تنظيم او پلي شی | ✓ د معلوماتو د امنيت پاليســـي بايد ترتيب او پلي شي. |
| ✓ د افغان ټيلی کام مخابراتي شـــرکت بايد يوه اجرائيوي کميټه جوړه کړه. | ✓ د خطر د مديريت پاليسی بايد ترتيب او پلی شی. |
| ✓ د پيښو د مخنيوی لپاره بايد پاليسی ترتيب او پلی شی. | ✓ د بدلونونو د مديريت پاليسی بايد ترتيب او پلی شی. |
| ✓ د پاچ د مديريت پاليسی ترتيب او پلی شی. | ✓ د بک اپ پاليسی بايد ترتيب او پلی شی. |
| ✓ د کار د دوام او د ناورين د بيارغونې او جبران پلان بايد ترتيب او پلی شی. | ✓ د پټنوم يا پاسورډ پاليسی ترتيب او پلی شی. |
| ✓ افغان ټيلی کام مخابراتي شرکت بايد د مالي چارو د سمبالښت لپاره يو جامع ټکنالوژي سيستم په جوړولو اقدام وکړی. | ✓ حسـاب شـوی تخفيفونه بايد په ژورنال کی ورسـول شی. |
| ✓ د شـرکت پورونه بايد محاسـبه او په ژورنال کی ورسـول شی. | ✓ د لمس کيـدونکو اجناســو اســتهلاك بايد هر کال محاسبه او په ژورنال کی ورسول شی. |
| ✓ د راپور ورکولو د نړيوالو معيارونو له مخې، د افغان ټيلی کام محترم مخابراتي شـرکت هڅه وکړي چې يو روڼ او مشـخص سيسـتم د پلور ټول لګښـتونه په سـمه او دقيقه توګه محاسـبه کولو او د محاسبې د توپيرونو د رامنځته کيـدو څخه د مخنيوی لپـاره رامينځته کړی. | ✓ د افغان ټيلی کام محترم مخابراتي شـرکت بايد داسې يو سيستم جوړ کړي چې د کميشنونو د محاسبې ورتيا ولري او ټول لګښتونه بايد د دې اداري د مسؤلينو لخوا د معياري تطبيقاتو په کارولو سـره په ژورنال کی ثبت او راجسـتر شـي او د ګټې او زيان حسـاب په وړاندې کولو کې ګټورط وي. |
| ✓ افغان ټيلی کام مخابراتي شـــرکت بايد د پانګونې کميټه جوړه کړی. | ✓ د افغان ټيلی کام مخابراتي شـرکت، يوه کميټه د راپور ورکولو د نړيوالو معيارونو سـره سـم هر کال د ياد شرکت ونډې تثبيت کړی. |
| ✓ د افغان ټيلی کام مخابراتي شـرکت بايد د يو داسـی سـيټم د جوړولو لپاره کوشش وکړی چې حسابی او مالی حســابونه په دوامداره توګه چيک کړی. او د راپور ورکولو د نړيوالو معيارونو سره سم هر کال د ياد شرکت  د ونډې تثبيت کړی. | ✓ افغان ټيلی کام مخابراتي شـــرکت بايد د نړيوالو مالي راپور ورکولو له معيارونو سره سم د خپلو کورنيو غير محسـوسـه شـتمنيو څارنه وکړي او د محسـوسه شتمنيو استهالك تنظيم کړي. |
| ✓ د ګټو د ټکر د مخنيوي لپاره، د افغان ټيلی کام مخابراتی شـرکت بايد بيلانس پاڼې د مديره هيئت تر غونډې پورې د تصـويب لپاره د وزارت محترم مقام ته وړاندې کړي. | ✓ افغـان ټيلی کـام مخابراتي شـــرکت بايد د معلوماتي ټکنالوجی د پروژو د پيل کولو دمخه د بشري سرچينو لګښت او ګټې تحليل ترسره کړي. |

| | |
|---|---|
| ✓ افغان ټيلی کام مخابراتي شـرکت باید د عایداتو او لګښتونو د حسابونو بانکي تطبیقات ترسره کړي او د عاید او لګښت راپورونه تنظیم کړی. | ✓ د راپور ورکولو د نړیوالو معیارونو او د محاسـبې د نړیوالو معیارونو سره سم، د افغان ټيلی کام شرکت باید د هرې پیشکی تادیاتو حوالی په لیجر کی ورسوی. |
| ✓ ټولې معاملې چې د مالي کال په جریان کې ترسـره کیږي باید د (IFRS) منطقي چوکاټ سـره سـم په ژورنال او بیلانس شیټ کې داخل شي. | |

## زموږ اضافه شوي ارزښتونه:

### د پیـښو موارد (قضیې)

### کیفیتي موارد

هغه کارونه چې د سیسټم لخوا او هغه چې قلمي یا ورقي تر سره کېږي مدیریت کول او اطمنان لاس ته راوړل.

د سیسټم د لا تقویت لپاره د مشکلاتو ، غلطیو او نورو نواقصو د اصلاح لپاره سپارښتنه او کنټرولول.

د رئیـس الوزراء عالي مقام ته د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې راپورونه چمتو کول او دولتي ادارو سره تعقیب کول اوهمدارنګه ښاریانو لپاره د پلټنې راپور چمتو کول.

ډالد ترلاسه کول چې څنګه د پلټنې لاندې ادارو د کورنیو او بهرنیو معلوماتو، سافټویر، هارډویر او د عامه شتمنیو ساتنه وشي.

د پلټنې لاندې ادارو د لومړنیو معلوماتو محرمیت (پټ) ساتلو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې کارکونکو له پوهې او پوهاوي څخه ډاډ تر لاسه کول.

د پلټنې عالي اداره ®

## د افغان ټیلی کام مخابراتی شرکت د بلنګ د معلوماتی تکنالوژۍ د سیستم د پلټنې راپور

مونږ روښتیا او حساب ورکونې ته ژمن یو